# د شرافت علي شاهد د نعت نګارۍ یو څېړنیز جاج

## A Research Study on Sharafat Ali Shahid's Naat Writing

Safia Bibi*
Dr. Shukria Qadir**

**Abstract:**

This research article critically examines the Na't poetry of Shrafat Ali Shahid, a prominent poet from Malazi village, whose work represents a significant contribution to Pashto devotional literature. His Na'ts are not confined to praise alone but reflect deep spiritual and mystical dimensions rooted in Qur'anic and Prophetic traditions. The study highlights his unique blend of simplicity and artistic beauty, the use of Quranic allusions, metaphors, and symbolism, as well as his emphasis on humility, sincerity, and prophetic love. The article concludes that Shrafat Ali Shahid's Na't poetry holds a distinguished place in Pashto mystical and literary heritage.

**Key Words** Shrafat Ali Shahid, Pashto Na't poetry, spirituality, mysticism, prophetic love, literary analysis, Quranic allusions

پښتو ادب په وده کښې د هرې سیمې برخه ده. هغه که د لر پښتانهٔ دي که د بر خو خپله حصه خدمت ئې د خپلې مورنۍ ژبې کړے دے. او پښتو ژبه ئې د نړۍ د نورو ژبو سره په صف کښې د نظم او د نثر په میدان کښې ودرولې ده. حقیقت دا دے چې کوم هم صنف دنیا ته راغلے دے نو پښتنو کوشش کړے دے چې زر تر زره ئې پښتو ادب کښې متعارف کړے دے. او بله دا چې صرف پښتو ته راوستل نهٔ بلکې طبیعت ئې هم ورله د پښتو کړے دے. په دې کښې ځینې خلق په شعري اصنافو کښې خپله برخه اچولې ده نو ځینو په نثر کښې خو ځینو شپه ورځ یو شان خدمت کړے دے او د نظم او د نثر په دواړه برخو کښې خپله برخه اچولې ده په دې کښې یو محترم شاعر و ادیب حضرت مولانا شرافت علي شاهد هم دے. چې د ملازۍ کلي تحصیل و ضلع ټانک اوسېدونکے دے.

د دوي زېږون ۲۸.۲.۱۹۸۲ کښې ملازۍ کلي تحصیل و ضلع ټانک کښې شوې. شرافت علي شاهد په خټه ادمزے دے او د مروت قبیلې د

* MPhil Scholar Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan
** Assistant Professor Pashto Department Abdul Wali Khan University Mardan

غلام خېل ځانګې سره تړاو لري، چې اصلي تعلق ئې د لکي مروت سيمې څخه دے. ابتدائي تعليم ئې تر لسم پورې د ګورنمنټ سکول ملازئ کښې او ايف اے ئې کراچۍ نه وکړه [1]

شرافت علي شاهد د رسمي تعليم سره سره يو جيد عالم دين هم دے. پښتانۀ ئې د مذهبي علومو له کبله خلق ډېر احترام کوي. د تصوف د څو سلسلو سره تړلے دے. ګڼ شمېر مريدان هم لري. د خپلو مذهبي زده کړو په حقله وائي چې

" په مدرسو کښې رائج نظام چې په هغې کښې په يو کال کښې لس، دولس کتابونه چې دې مختلفو فنونو ښودل کېږي ، لکه " قرآن کريم څو هغه هم د صحيح تلفظ او تجويد سره، عقايد او د اساس ديني تعليمات اسلامي آداب" يا "دينيات" لپاره نصابي کتابونه ، احاديث ،اربعين نووي" يا "تعليم الاسلام ، فقه ، نورالايضاح" يا "احسن القوايد" ، قرآن کريم مکمل تلاوت او ترجمې سره ختم ،

تفسير لپاره "جلالين " عقايد " شرح عقايد نسفي" ، قدوري ،کنز الدقائق ، مشکوة المصابيح ، نحو او صرف "ميزان الصرف"کافيه"، "هداية النحو". عربي ادب ، منطق او فلسفه ،شرح وقاية ، اصول الفقه ، نورالانوار ، صحاح سته يعني ،صحيح البخاري ، صحيح مسلم ، سنن ابو داود ،سنن ترمذي ، سنن نسائي، سنن ابن ماجه وغېره وغېره . موصوف الحمد للّه سبقاً سبقاً د اللّه جل جلا له په توفيق سره دا هر څۀ سر ته رسولي دي.

د ښاغلي موصوف صاحب يو څو هغه معروف و مشهور استادان چا چې د دوي علمي او روحاتي روزنه او پالنه کړې ده، لکه " پير طريقت رهبر شريعت حضرت مولانا شفيع اللّه صاحب دامت برکاته تلميذ قاضي عبدالکريم صاحب کلاچوي تلميذ حضرت شيخ الاسلام والمسلمين حضرت مدني رحمة اللّه عليه) او مفتي ټانک حضرت مولانا فتح خان صاحب رح تلميذ حضرت مولانا عبدالغني رح تلميذ حضرت شيخ الهند)

چې دا سند په علمائي دیوبند کښې یو ممتاز حېثیت لري ځکه چې دا یو لوے سند دے۔"[۲]

کار روزګار ئې د زرګرتوب دے او دکان ئې د ښار په مېنځ کښې دے چې اکثر د کلو نه شاعران ملګري د نومورې دکان ته راځي او ادبي بحث،مباحثې په کښې روانې وي.

ښاغلي د پښتو ادب لمن ته تر دې دمه دیارلس کتابونه سپارلي دي۔ چې څۀ دا رقم نومه لري۔

1۔ شعر و شریعت (پښتو او اردو نثر دواړه)
2۔ ستا د مخ رڼا پسې راغلے یم (پښتو نعتیه مجموعه)
3۔ حکایات عظیم (اردو سوانح)
4۔ ملازئی سے آدم زئی تک (سفر نامہ)
5۔ چقمق (شعري مجموعه)
6۔ که مې خدا ے نۀ کړي د دې دره جدا (پښتو نعتیه مجموعه)
7۔ اب حیات (پښتو شعري مجموعه – اردو او انګلیسي ژباړه)
8۔ زۀ به خیر ګنم تر څو په خاموشۍ کښې (شعري مجموعه)
9۔ سرچینه د محبت ئې (نعتیه مجموعه)
10۔ کلیات شاهد (اول ټوک)
11۔ د احمد ښېښي کلیات( ترتیب و تدوین)
12۔ د احمد جان احمد ښېښي شاعري، فن، فکر او شخصیت:
13۔ د ښېټ نیکۀ د ادب په ګدۍ ناست ګدي نشین :

په دې ورکړے شوو کتابونو کښې درې مجموعې نعتیه مجموعې دي۔ سرچینه د محبت ئې، که مې خدا ے نۀ کړي د دې دره جدا ، ستا د مخ رڼا پسې راغلے یم۔

پښتو ادب کښې مذهبي شاعري یو لویه پنګه ده۔ حقیقت دا دے چې مونږ که د پښتو د شاعري په اغاز کښې ګورو نو د هغه زماني نه ډېر لیکل کوم چې مونږ ته په لاس راغلي دي نو هغه مذهبي شاعري ده۔ مونږ که د بیټ نیکۀ دعائیه نظم نه راواخلو او راځو د روښاني تحریک پورې نو ډېره شاعري مذهبي ده۔ یا خو داسې شوي چې مذهبي شاعري د خپل تقدس له کبله محفوظ شوې ده۔ او باقي د زمانې چکر په خپل ګرداب کښې ورکه کړې ده۔

خو بهر حال مذهبي شاعري پښتو ادب کښې يوه لويه برخه لري.

مذهبي شاعرۍ کښې حمد ، نعت ،منقبت ، دعا ، قوالي ، اخلاقيات او تصوف سره تړلي موضوعات وغېره ټول راځي. چونکې زمونږ موضوع دلته نعت دے نو مونږ راځو نعت ته.

نعت د عربي ژبې کلمه ده چې د ستائېلو او صفت کولو معني ورکوي. په اسلامي ادب کښې نعت د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ستايلو لپاره هغه منظوم يا منثور کلام ته ويل کېږي چې په کښې د رسول الله ﷺ ځانګړتياوې، اخلاق، صفات، او فضيلتونه بيان شوي وي. په دې حقله ساجد محمد شائق ليکي چې

" شعري اصطلاح کښې نعت هغه نظم وي چې په کښې د اخري نبي حضرت محمد ﷺ مدح ، ستائينه بيان کړې شوې وي[۳]

د نعت ګوهۍ تاريخ د حضرت محمد ص د زمانې نه راشروع دے. د حضور په ژوند مبارک به صحابه کرامو رض د حضور ص په شان اقدس کښې د هغوي په دربار کښې نعتونه وئيل او د حضور ص نه به ئې داد اخستو. حسان بن ثابت د دې لوے مثال دے. د حضرت علي رض خپل ديوان چاپ دے.

" د نعت ليکلو سلسله د اسلام لۀ لومړيو ورځو پېل شوې. د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ژوند کښې ګڼو صحابه کرامو د هغه په ستائينه کښې اشعار وئيلي دي. لۀ دې جملې څخه حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه ځانګړے مقام لري، ځوک چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم شاعر ګڼل کېږي. هغه وئيلي دي "[۴]

بحېثيت مسلمان د مسلمانۍ تقاضه هم دا ده چې نعت دې خامخا وليکل شي. ځکه چې محبوب دو جهان نه بل داسې کوم وګړے ښکلے کېدل شي ، کوم د صفاتو مالک کېدل شي او وخت په وخت زمونږ کلاسک شعراؤ او تر ننه نعت ليکل هم شي او باقاعده په خوش اوازۍ وئيل هم شي.

پښتو ادب کښې د نعت نويسۍ تاريخ ډېر زوړ دے. بلکې مونږ ووې چې د پښتو ژبې په ابتدائي شاعرۍ کښې مونږ ته مذهبي شاعري ډېره په لاس راځي. نعت تقريبا اکثرو کلاسک او جديد شاعرانو د خپل کلام زينت جوړ کړے دے او خوږ پېغبر حضرت محمد ص سره ئې د مينې اظهار کړے دے. د پښتو د مشهورو شاعرانو لکه خوشحال خان

خټک، حمید بابا، عبدالقادر خان خټک، او معاصرو شاعرانو په اشعارو کښې د عشق نبي ص او د حمد ښکلا ښکاره ده۔

"ځنګه چې فارسۍ نه د اردو شاعرۍ اکثر صنفونه خپل کړي دي۔ په دغه کښې نعت هم شامل دے۔ اګر چې د اردو کلاسیکي شاعرانو په باقاعده طور سره دغه صنف نه دے خپل کړے ولې بیخي ورته شا کړې هم نۀ ده۔ خو د باقاعده جدید نعت لیکلو سعادت مولانا حسن رضا خان، مولانا احمد رضا خان، امیر مینائي، مولانا حالي، علامه اقبال او ظفر علي خان تر لاسه کړے دے۔ او دا روایت د ډېر جدت سره په خپل اب و تاب کښې د مولانا ماهرالقادري، احمد ندیم قاسمي، حافظ لدهیانوي، محسن احسان او مسرور کیفي، چې دوه مجموعې "ملجا و ماوا" او "عکس تمنا "یې دا رقم په لاسو کښې دي رارسي۔

زمونږ شېریني پښتو په شاعرۍ کښې د نعت روایت هم ډېر لرغونے دے۔ ولې دغه اثار د کلاسیکي شعراو په شاعرۍ کښې په تصوف او مذهبي رنګ کښې په لاس راځي۔ خو مونږ په فني او تکنیکي لحاظ مکمل نعت د ستر خوشحال خان خټک دے او د پښتو ترټولو نه لوے متقي هر دلعزیز شاعر حضرت عبدالرحمان بابا جي نعت شریف د معیار او مقبولیت په لوړ مقام اودرولو۔ په دوي پسې دغه سعادت اشرف خان هجري، کاظم خان شیدا، سلیم محمد مخلص، خواجه محمد بنګش، کامګار خټک، عبدالعظیم رانیزي، معزوالله خان مومند او حافظ الپوري ترلاسه کړے دے۔ دغه سلسله تر دې راورسېده۔ چې علي حېدر جوشي، حاجي محمد امین، عبدالله استاد د نوښار چې په لبید یاد شوے دے۔ ګلاب نیستوال نه سربېره د ژبې او ادب استاذانو بابائے غزل حمزه خان شنواري، افضل رضا، ډاکټر پرویز مهجور، خویشکي، ډاکټر هدایت الله نعیم، ډاکټر یار محمد معموم، ډاکټر شبیر زمان سیماب، زبېر شاه ساجد شهي، او عارف الله وګېره او پروفیسر داور خان داود چې دوه نعتیه مجموعې چاپ دي۔" محمد عظیم شان دے"

او د محمد رسول الله ځهره " سید هدایت الله شاه چې د نعتونو ده " د سائل نعتونه " په نامه چاپ ده. لائق ذاده لائق ، حنیف قیس ( سوات ) او دا راز د ډېرو مجموعې چاپ دي "[۵]

څنګه چې مونږ ذکر وکړو ښاغلي درې مجموعې چاپ دي. د دوي په نعتیه مجموعه پروفېسر حنیف خلیل په خپلو تاثراتو کښې لیکي چې

" ما چې د ښاغلي شرافت علي شاهد صاحب د نعتیه کلام مطالعه وکړه نو ډاډه شوم چې په دغه میدان کښې مونږ دغسې زیرک ځوانان هم لرو چې یو خواه ئې په فکر کښې توازن او اعتدال موجود دے نو بل خوا د منظوم اظهار په سلیقه هم پوهه دے. زۀ د هغه نعتیه کلام د یو عقیدت مند زړۀ صادقانه اواز ګڼم او د پښتو د نعتیه کلام په میدان کښې ئې یوه ګټوره او د قدرورې اضافه بولم"[۶]

احمد سعید د دوي په دې کتاب باندې په خپلو تاثراتو کښې لیکي چې

"شرافت علی شاہد کی نعتوں میں ایک عجیب سوز ہے۔ اپنی محبت کے اظہار میں انکا مرغ تخیل اپنی پرواز کے باعث اوج ثریا کو چھوتا نظر اتاہے انکی کلام کا تتبع قاری کو رلا کر رکھ دیتاہے اور اسکے دل میں موجزن عشق و محبت کی چنگاریوں کو بھڑکا کے رکھ دیتاہے"[۷]

داسې نور هم ګڼ شمېر پوهانو استاذانو د دوي په نعتیه کلام خپل تاثرات لیکلي دي او د دوي د نعت نګارۍ ئې تعریف کړے دے. زۀ راځم د دوي د نعت په حقله خپلې موضوع ته راځم.

**فکري اړخونه** : چونکې مونږ وړاندې ذکر وکړو چې شرافت علي شاهد حقیقي معنو کښې عالم فاضل سړے دے. نو بیا خو چې د دوي د نعت د فکر احاطه کوو حقیقت کښې ګرانه خبره ده. اګر که ناممکنه نۀ ده. خو دلته به ترې د ثبوت دپاره هغه ساده افکار راواخلم. کوم چې عام وګړي د دوي د نعته اخذ کوي.

**مینه او ستائینه** : چونکې نعت د اقائے دو جهان سرورکونېن ستائینه ده. نو دا د یو عجمي سړي دپاره او بیا د پښتو ژبه هم دومره فصیح نۀ ده چې په الفاظو کښې د هغوي د شخصیت د ستائینې حق ادا کړي. تر ډېره حده شرافت علي شاهد خپل کوشش کړے او د خپلې مینې په زور او د مذهبي علومو په برکت ئې ځان دغه مقام ته رسولے دے چې ادیبان

شاعران ئې په داد او ډاډ مجبوره کړي دي۔ او دغه ليکل د دوي په نعتيه کتابونو د تاثراتو په شکل کښې موجود دي۔ځيني کسانو خو ورته بابائے نعت هم وئيلے دے۔ سعادت سحر صاحب په خپل ليک کښې د شرافت علي شاهد صاحب په اړه ليکلي وۀ

" شرافت علي شاهد صاحب نه يوائې د نعت په شاعري کښې ځانګړې ژبه او اسلوب وړاندې کړے دے بلکې د هغوي کلام د ادب، دين، او عشقِ رسول ﷺ يو ناياب امتزاج هم دے. د "بابا ے نعت" لقب د هغوي د تخليقي کمال، روحاني اخلاص، او د امت مسلمه لپاره د نعت په ميدان کښې د يوې مهمې لاربښونې اعتراف دے. د هغوي هم دا نعتيه مجموعه " سرچينه د محبت ئې " د ادب مينوالو او د نعت لوستونکو لپاره د الهام او لاربښونې سرچينه ګرځېدلې ده. [8]

دلته څو اشعار چې شرافت علي شاهد پکښې د خپلې بې کچه مينې اظهار کړے دے۔

ستا نامه چې کله واخلم
اوبۀ توې شي په اورونو
دغه اور د معرفت دے
لګي يو بل ته په زړونو
تۀ مراد زما د ژوند يې
تۀ مې غوښتے په سوالونو [9]

دلته د خوږ پېغمبر ﷺ په نوم اخستو د هغه د زړۀ اورونه مړۀ کېدل مطلب سکون و اطمينان دے۔او بيا ورپسې شعر کښې وائي چې زۀ چې دومره ستا په مينه کښې کړېږم د دې اصل وجه ده چې ما ستاسو شخصيت پېژندلے دے ستاسو مقام نه خبر يم۔او وائي چې زۀ چې کوم وخت هم سوالونو کووم زما د ژوند مراد تۀ ئې بس ستا ديدن غواړم۔داسې ټولو نعتيه کلامونو کښې د مينې اظهار د انساني جذبې په انتهاء کښې کړے دے۔

**عجميت** : دې مراد ښاغلي په خپلو نعتونو کښې بار بار دغه اعتراف کړے دے۔چې زۀ غېر عربي يم۔زما ژبه هغه هومره فصيح نۀ ده۔زۀ ستا د وطنه لرې يم ۔خو چې څومره لرې يم هغه هومره دې فراق کښې سوزېږم۔

څـهٔ د ژونـد ه لـه کربـه راتېرېږمـه
خلق چې درځي زهٔ پاتې کېږمه [۱۰]

بل ځای لیکي چې

سر مې ایښے وي بې شکه په سجدې کښې
ځان مې دلته وي خو روح مې مدینې کښې [۱۱]

یا دا شعر چې

ستا عرب تا ته نزدې دي دا منم خو
زهٔ د لـرې عجمـي راغلـے یمـه [۱۲]

**روحانیت** : هغه کېفیت چې د شعر د کلمو او فضا نه د اخلاص ، پاکۍ ، اندروني مینې او سکون احساس کېږي۔

د بناغلي شرافت علي شاهد په کلام کښې روحانیت او پاکي د دوي د علم او د تصوف له برکته ځلېږي۔ بلکې هغه خو په معاشره کښې د خپل عزت او وقار سبب هم د حضور ص سره د مینې له برکته ګڼي۔ لکه وائي چې

ستا بانـدې درود مـې شـروع کـړے چـې
څمـــه ورځ پـــه ورځ اوس اوچتېږمــــه

خلـق چـې ناروغـه شـي څـهٔ څـهٔ اخلـي
زهٔ چـې سـتا نامـه اخلـم رغېږمـــه [۱۳]

دلته د دوي په نعت کښې هغه روحانیت موجود دے چې معنوي ، قلبي او باطني کېفیت سره تعلق ساتي۔ او په دورود او عشق له برکته سکون او تقدس احساس پېدا کوي۔

**عرفاني رنګ** : مونږ وړاندې ذکر وکړو چې شرافت علي شاهد د تصوف د سلسلو سره تعلق ساتي۔ او یو عملي صوفي دے۔ په تصوف کښې د رسول الله ص سره مینه د معرفت تر ټولو لویه درجه ګڼلے کېږي۔ شاهد په خپل نعت کښې د عشق او فنا بقا خبرې کوي۔ او د صوفیانو عقیده هم دا وي چې عشق نبوي کښې چې سالک ځان فنا کوي نو د روحانیت بقا کښې داخلېږي۔

چې د تا مدحې ته ځلا ورکړي ښکلا اوبخښي
دغه لوئي فن ته به څنګه رسائي کوومه

زما مقصود اصل کښې تهٔ زما مطلوب هم تهٔ ئې
څهٔ که تبليغ او که جهاد که مريدي کوومه[۱۴]

داسې نور ګڼ شمېر هغه ځانګړي موضوعات چې د دوي د نعتيه کلام بنياد دے چې دوي ته ئې په نعت نګارۍ کښې ځانګړتيا ورکړې ده.

**فني اړخونه** :

راځم د دوي د نعت فني اړخ ته. نعت چونکې يو موضوعاتي صنف دے او دا په هر يو شعري چوکاټ کښې ليکلے شي. دا په غزل، چاربېته، مثنوي مطلب هر يو چوکاټ کښې ممکن دے. خو که مونږ د ښاغلي نعت ته ګورو نو ډېر د غزل او څهٔ د مثنوي په چوکاټ کښې ليکل شوي دي. لکه

ستا د مخ رڼا پسې راغلے يم
تا غواړم په تا پسې راغلے يم

زهٔ د تا د سرو شونډو مُسکا پسې
زهٔ د زړهٔ درزا پسې راغلے يم

هغه چې د هر چا درد ئې زړهٔ کښې دے
زهٔ هغه ابا پسې راغلے يم

دلته مې نور څوک دي راته اووايه
دلته خو په تا پسې راغلے يم

هغه چې نبيان ئې مقتديان دي ټول
زهٔ هغه اقا پسې راغلے يم

هغــه چــې شــاهد ئــې معطــر کړمــه
زۀ هغـــې هـــوا پســـې راغلـــے يـــم [۱۵]

د غزل چاربېتې او د مثنوي په چوکاټ کښې ليکلو د دوي نعت له غنائيت او موسيقيت ورکړے دے.او د دوي فن له ځانګړتيا او ښائست ورکوي.او هم دا وجه ده چې نعت خوانان د وئيلو دپاره د دوي د نعت انتخاب کوي او د خپلې خوږې غږې رنګ وربخښي.

**ژبه او سبک**: هر څو که دوي د عربۍ او فارسۍ کتابونه وئيلي دي.او د پوهې علم رسد ئې ډېر دے خو ولې د وېنا ساده توب ئې کمال دے او په عوامو او خواصو کښې مقبول دے. د دوي په کتابونو د پوهانو ليکونه او په دې ارټيکل کښې ورکړے شوي شعرونه زما د خبرې لوے ثبوتونه دي.

تشبيهات او استعارات: د يو شاعر د فصاحت او بلاغت لوے ثبوت د هغه په کلام کښې تشبيهات او استعارات دي.ښاغلے شرافت علي شاهد په دې تله پوره دے.او ډېر ښه تشبيهات او استعارات ئې په خپل کلام کښې ځاے کړي دي.

پاس د اسمان ستوري تربنه ګرد ګرځي

مونږ سره په زمکه داسې ستورے دے
دا بـــه مـــو لـــه نمـــر د جهالـــت ســـاتي
دا مو پـه سرونو هغه ستورے دے [۱۶]

**تلميحات**: ښاغلي شرافت علي شاهد د نعتيه کلام ښکلا د هغوي په نعت کښې تلميحات راوړل هم دي.بلها اسلامي واقعات هغوي د خپل نعت برخه ګرځولي ده.

نمـــر پـــه تـــا پســـې تمامـــه ورځ ګرځېـــږي
شپې سپوږمۍ او ستوري تاته راکوزېږي

بوټـــو هـــم درپســـې ســـاه خېژي اوچېـــږي
کـــاڼي هـــم درپســـې ژاړي او کړېـــږي [۱۷]

د غزل په فن چې څومره هم خبرې کېدلے شي هغه ټولې د دوي د کلام ښائست دے خو زۀ دلته دا خبره کووم چې د شرافت علي شاهد نعت يواځې د ستائينې او د مينې اظهار نۀ دے

بلکې ژوره روحاني او عرفاني فضا لري. د ښاغلي نعتونه د عاجزۍ ، خضوع ، عشق او د درود د ذکر له لارې د لوستونکي په زړهٔ کښې د پاکۍ او مینې احساس راژوندے کوي. په ځانګړي ډول د نور محمدي ص یادونه ، د شفاعت طمع او د فنا بقا اشارې د تصوفي ادب له بنیادونو مفاهیمو سره تړاؤ لري. په فن او فکر پوره دي. نو وئیلے شو چې د شرافت علي شاهد نعتونه د فکر و فن دوړو توازن لري. د عرفامي عشق ښکلے انځور وړاندې کوي او د پښتو نعت د روحانیت یوه مهمه بېلګه ده.

# حوالې


1. شاهد ، شرافت علي ، شعر اور شریعت : نفیس بک بائنډر اېنډ پرنټرز لاهور ، ۲۰۲۰ مخ ۲۵
2. مخ په مخ مرکه ، پېښور پوهنتون ، ۲ مۍ کال ۲۰۲۵
3. شائق ، ساجد محمد : خرګنده خزانه، عدنان پرنټر پشاور، جون ۲۰۱۵مخ ۱۴۵
4. شاهد ، شرافت علي ، ستا د مخ رڼا پسې راغلے يم : اعرف پرنټرز محله جنګي پېښور مخ ۵
5. نسیم ، نسیم خان ، اظهر عارف الله ، ارمغان نعت : میزان پرنټرز محله جنګه پېښور، مارچ ۲۰۱۹ مخ ۲۴، ۲۵، ۲۶
6. شاهد ، شرافت علي ،کلیات :شاه پرنټرز ندیم ټرېډ سنټر محله جنګي پېښور،2024ء، مخ ۸۷
7. شاهد ، شرافت علي ، ستا د مخ رڼا پسې راغلے يم : مخ ۱۳
8. Facebook , 4 Feb 2024 , www.facebook.com.saadatsahar
9. شاهد ، شرافت علي ،کلیات : ، مخ ۱۴۸
10. هم دغه اثر.........مخ ۳۷۰
11. هم دغه اثر...........مخ ۲۳۷
12. هم دغه کلیات........مخ ۲۱۳
13. هم دغه اثر.......مخ ۳۷۰
14. هم دغه کلیات .......مخ ۳۱۱
15. شاهد ، شرافت علي ، ستا د مخ رڼا پسې راغلے يم : مخ ۴۷
16. شاهد ، شرافت علي ،کلیات : ، مخ ۱۴۷
17. هم دغه کلیات...... مخ ۱۴۸